
# سورهٔ فاتحه

## (فضائل او مضامين)

25-May-2022



هفته وراه د سُنّتو ډکه اِجتماع کښې کېدونکے

د سُنّتو ډک بيان

(For Islamic Brothers)

26 مئ 2022ء د پاکستان په هفته وارو اجتماعاتو کښې کيدونکے بيان

# سورۂ فاتحه (فضائل او مضامين)

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا حَبِيْبَ الله

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِيَّ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا نُوْرَ الله

نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَافِ (ترجمه: ما د سُنَّتِ اعتکاف نِيَّت اوکړو)

## د دُرُودِ پاك فضيلت

حضرت ابو طلحه انصاري رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ فرمائي: يو ځل د سحر په وخت د الله پاك د آخري نبـي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په نُوراني مخ باندې د خوشحالئ آثار وو، صحابۂ کرامو د هغې سبب اوپوښتلو نو اوئې فرمائيل: الله پاك پيغام راليږلے دے: اے محبوبه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! چې ستاسو اُمَّتـي په تاسو باندې يو ځل دُرُود شريف اولولي، زه به د هغه د پاره لس نيکئ اوليکم، د هغه لس ګناهونه به مُعاف کړم او لس درجے به ئې د قيامت په ورځ اوچتې کړم او هم دومره رحمتونه به پرې نازِل کړم.[1]

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد



[1]…مُسْنَدِ اَحْمد، جلد:5، صفحه:509، حديث:16352۔

# د قرآنِ کريم افضل ترين سورت

صحابیٔ رسول حضرت ابو سعيد بِن مُعَلّٰی رَضِیَ اللہُ عَنْہُ فرمائي: يوه ورځ ما لمُونځ ادا کولو، د الله پاك آخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم زما په خوا تيريدلو، خوږ آقا صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ماته آواز اوکړو، زه په لمَانځه کښې ووم، په دې وجه زه فورًا حاضر نه شوم، زر زر مې لمُونځ مکمل کړو، بيا د خوږ آقا صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په خدمت کښې حاضر شوم، په دې باندې خوږ آقا صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: ته کوم څيز زما خوا ته د راتللو نه منع کړے وے؟ ما عرض اوکړو: يَا رَسُوْلَ اللّٰه صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! ما لمُونځ کولو ځکه حاضر نه شوم. خوږ آقا صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: آيا الله پاك دا نه دي فرمائيلي:

يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اسْتَجِيْبُوْا لِلّٰهِ وَ لِلرَّسُوْلِ اِذَا دَعَاكُمْ لِمَا يُحْيِيْكُمْ

(پاره:9،سورۂ انفال:24)

[مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالاِیمان: اے ايمان والؤ د الله او رسول په رابللو حاضر شئ کله چې رسول تاسو د هغه څيز د پاره را اُوبلي کوم چې به تاسو ته ژوند درکوي.

د دې آيت تلاوت کولو نه پس د الله پاك آخري نبي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: آيا زه تاته د جمات نه بهر ته د وتلو نه مخکښې مخکښې د قرآنِ کريم د ټولو نه زيات عظمت والا سُورت اونه ښائم؟ بيا خوږ آقا صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم زما

لاس اونيولو، چې كله د جمات نه بهرته ئې تشريف وړلو نو ما عرض اوكړو: يَـا رَسُولَ الـلّٰـه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! تاسو د قرآنِ كريم د ټولو نه زيات عظمت والا سُورت ښودلو فرمائيلي وو. خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: آؤ! اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ رَبِّ الۡعٰلَمِيۡن (يعني پوره سُورۀ فاتحه)، دا د قرآنِ كريم د ټولو نه زيات عظمت والا سُورت دے او سَبۡعِ مَثَانِي (يعني بار بار لوستونكے د اووه آيتونو سورت) دے كوم چې ماته عطا كړے شوے دے.[1]

دغه شان په يو روايت كښې د حضرت اُبَـيْ بِن كَعب رَضِىَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دے، حضرت اُبَـيْ بِن كَعب رَضِىَ اللهُ عَنْهُ يوه ورځ لمُونځ كولو، خوږ آقا هغوئي ته آواز اوكړو. هغوئي لمُونځ ادا كولو، په دې وجه ئې جواب ورنكړو، بيا ئې زر زر لمُونځ اوكړو او د خوږ آقا په خدمت كښې حاضر شو، خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: ته كوم څيز زما خوا ته د راتللو نه منع كړے وے؟ ما عرض اوكړو: يَـا رَسُولَ الـلّٰـه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! ما لمُونځ كولو ځكه حاضر نه شوم. خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: آيا تا د الله پاك د كلام دا آيت نه دے لوستلے چې



[1]...بخاری، کتاب التفسیر، صفحه:1178، حدیث:4703۔

www.dawateislami.net

| | |
|---|---|
| يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اسْتَجِيْبُوْا لِلّٰهِ وَ لِلرَّسُوْلِ اِذَا دَعَاكُمْ لِمَا يُحْيِيْكُمْ ۚ (پاره:9،سورۂ انفال:24) | [مَفهُوم] ترجمۂ كنزُالاِيمان: اے ايمان والؤ د الله او رسول په رابللو حاضر شئ كله چې رسول تاسو د هغه څيز د پاره رااوبلي كوم چې به تاسو ته ژوند دركوي. |

عرض مې اوكړو: يَـا رَسُولَ الـلّٰـه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! ما دا آيت لوستلے دے، بيا به داسې نه كيږي (يعني كه زه په لَمانځه كښې هم ووم نو په رابللو به فورًا حاضريږم). د الله پاك آخري نبـي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: آيا زه تاته د قرآنِ كريم د ټولو نه زيات عظمت والا داسې سُورت اونه ښائم چې د هغې په مِثل سورت نه په تورات كښې، نه په انجيل كښې، نه په زبور كښې او نه د قرآنِ كريم په باقي سُورتونو كښې داسې سورت شته؟ عرض مې اوكړو: ولے نه (يَـا رَسُولَ الـلّٰـه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! ضرور اوښائې)، خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: ته په لَمانځه كښې څه تلاوت كوې؟ په دې باندې حضرت اُبَـىُّ بِن كَعب رَضِىَ اللهُ عَنْهُ د سورۂ فاتِحه تِلاوت شروع كړو، رسولِ اكرَم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: په هغه ذات مې دې قَسَم وي د چا په قبضه كښې چې زما ځان دے، بے شكه هم دا سورت دے چې د دې په مِثل سورت نه په تورات كښې، نه په انجيل كښې، نه په زبور كښې او نه د قرآنِ كريم په باقي سُورتونو كښې داسې سورت

شته؟ بے شکه دا **سَبۡعِ مَثَانِي** (يعني بار بار لوستونکے د اووه آيتونو سورت) دے.[1]

## اصل اُصول د هغوئي بندګي ده

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** د دې دواړو واقعو نه دا د اِيمان نه ډك مدني ګُل ميلاو شو چې که د لمَانځه په مينځ کښې د الله پاك رسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم څوك ياد کړي نو څومره لمُونځ چې ئې کړے دے، هغه دې پريږدي او فورًا د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خدمت کښې حاضريدل واجب دي.

اَللّٰهُ اَکبَر! د دې نه معلومه شوه چې بے شکه لمُونځ افضل عبادت دے خو د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خدمت کښې حاضريدل د دې نه هم زيات اهم او افضل دي. علمائے کرام فرمائي: د لمَانځه په مينځ کښې که رسولِ کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مو ياد کړي، بنده دې لمُونځ پريږدي او حاضر دې شي نو د هغه لمُونځ نه ماتيږي بلکه چې څومره وخت د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خدمت کښې حاضر وي، هغه وخت هم په لمُونځ کښې شميرلے کيږي، بيا د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د خدمت نه چې فارغه شي، بيرته دې راشي او خپل لمُونځ دې د هغه ځائ نه شروع کړي،



[1]...ترمذی، کتاب فضائل القرآن، باب ما جاء فی فضل فاتحة الكتاب، صفحه:669، حديث:2875۔

www.dawateislami.net

چرته ئې چې پرېښودے وو. معلومه شوه چې د سرکار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم حکم د عامو حالاتو نه بيل دے، اوګورئ! په لمانځه کښې خبرے کول، چاته سلام کول، د دې سره لمونځ ماتيږي خو غور اوکړئ! مونږه چې کله اَلتَّحِيَّات لولو نو عين د لمانځه په حالت کښې رسولِ اکرَم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته مخاطب کيږو او د هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خدمت کښې سلام پيش کوو: اَلسَّلَامُ عَلَيْکَ اَيُّهَا النَّبِيُّ (اے نبـي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! په تاسو دې سلام وي).[1] دې سلام کولو سره لمونځ نه ماتيږي بلکه مکمل کيږي. چې په لمانځه کښې اَلتَّحِيَّات لوستل واجب دي. اعلٰـى حضرت، اِمامِ اهلِسُنَّت مولانا شاه احمد رضا خان رَحۡمَةُاللّٰهِعَلَيۡه څه ښکلي فرمائيلي دي:

ثابِت ہوا کہ جملہ فرائِض فروع ہیں | اَصْلُ الْاُصُول بندگی اُس تاجوَر کی ہے[2]

**وضاحت:** يعني معلومه شوه چې د دِين ټول فرائض دي، لمُونځ، روژه، زکوٰة، حج، دا ټول فرائض په اصل کښې ښاخونه دي، د چا؟ د خوږ آقا محمد مصطفٰی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د غلامئ، د رسول کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د بندګئ، د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم غلامي د هر اُصول اصل دے.



[1] ...مرآة المناجيح، جلد:3، صفحه:224 خلاصةً۔
[2] ...حدائقِ بخشش، صفحه:205۔

www.dawateislami.net

## د صحابۀ کرامو عَلَيۡهِمُ الرِّضۡوان قِسمَت ته سلامونه!

**اے عاشِقانِ رسول!** د دې نه د صحابۀ کرامو عَلَيۡهِمُ الرِّضۡوان د عظمَت اندازه اولګوئ! چې د لمَانځه په حالت کښې حُضُور صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم رااوبلي نو تلل واجب دي، دا د شريعت حکم دے او دا شرعي حکم د صحابۀ کرامو عَلَيۡهِمُ الرِّضۡوان سره خاص وو، ځکه چې خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د دُنيا نه ظاهري پرده فرمائيلې ده، ځکه اوس څوك په دې حکم باندې عمل نشي کولے.

سُبۡحٰنَ اللّٰه! صحابۀ کرامو عَلَيۡهِمُ الرِّضۡوان څه ښکلے قِسمَت موندلے دے....! هغوئي عَلَيۡهِمُ الرِّضۡوان ته څومره سعادت نصيب شوے وو...! سحر به چې راپاڅيدل نو د آقا کريم صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ديدار به ئې کولو، چې ماښام به شو نو د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د نُوراني مخ مبارك ديدار به ئې کولو، عين د لمَانځه په حالت کښې به هم که سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغوئي ياد کړل نو صحابۀ کرام عَلَيۡهِمُ الرِّضۡوان به لاس په نامه حاضريدل او خدمت به ئې کولو.

اُن صحابہ کی خوش اطوار اداؤں کو سلام | جن کا مسلک تھا طوافِ رُخِ زیبا کرنا

**افسوس!** يو مونږه يو او زمونږه په نصيب کښې دا خوش نصيبي چرته ده..!! خو زمونږ په نصيب کښې د نامرادئ دا ورځے ليکلے شوې وې.

الله پاك دې په ټولو صحابۂ كرامو او اهلِ بيتِ اَطهَار عَلَيۡهِمُ الرِّضۡوان باندې ډېر ډېر رحمتونه نازل كړي. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوۡا عَلَى الۡحَبِيۡب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د سورۂ فاتحه افضل سورت كيدو معنٰى

اے عاشِقانِ رسول! د بيان شوؤ دواړو احاديثو نه دا هم معلومه شوه چې سورۂ فاتحه د قرآنِ كريم افضل ترين سُورت دے. دلته دا خبره ښه ياده اولرئ چې ټول قرآنِ كريم د الله پاك كلام دے، په دې حيثِيَّت سره ټول قرآن فضيلت والا دے. كله چې دا اووئيلے شي چې فلانے سورت يا فلانے آيت زيات فضيلت والا دے نو د دې دوه معنې كيږي: **(1)** يوه دا چې د دې سُورت (مثلاً د سورۂ فاتحه) لوستلو ثواب زيات دے **(2)** دويمه دا چې د دې سُورت مضامين د نورو سُورتونو په نِسبَت زيات اعلٰی دي، د مِثال په طور په سُورۂ لَهَب كښې د ابولهب كافِر ذِكر دے او په سورۂ اِخلاص كښې د الله پاك د وحدانيت بيان دے، په عامه پوهه كښې دا خبره راځي چې د ابُولَهَب كافِر ذِكر كولو او د الله پاك وحدانيت بيان كولو كښې د زمكے او اسمان فرق دے، داسې سُورۂ لَهَب هم د الله پاك كلام دے او سورۂ اِخلاص هم د الله پاك كلام دے، په دې حيثِيَّت سره دواړه برابر دي خو د مضامينو په اعتبار سره په دواړو كښې فرق دے. دغه شان

د خپلو مضامينو په اعتبار سره سورۂ فاتحه د قرآنِ کريم د باقي ټولو سُورتونو نه زيات فضيلت والا ده.[1]

## سورۂ فاتحه افضل ترين سورت دے

صحابـئ رسول حضرت ابُوزيد رَضِیَ اللہُ عَنْہُ فرمائي: يو ځل د شپې وخت وو، زه د خوږ آقا، مکي مدني مصطفٰی صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سره د مدينے منَوَّرې په يوه کوڅه کښې تيريدم، ناڅاپه د يو کور نه آواز راغـے، يو صحابـي رَضِیَ اللہُ عَنْہُ د تَهَجُّد په لمُونځ کښې سُورۂ فاتحه لوستله، د دې په اوريدلو رَسُولِ اکرَم صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اودريدلو او د سُورۂ فاتحه تلاوت ئې اوريدل شروع کړه، کله چې صحابي رَضِیَ اللہُ عَنْہُ سُورۂ فاتحه مکمل کړه نو خوږ آقا صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: **مَا فِي الْقُرْآنِ مِثْلُهَا** يعني په قرآنِ مجيد کښې د دې په شان يو سُورت هم نشته.[2]

## د سورۂ فاتحه تَعارُف

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** سُورۂ فاتحه د قرآنِ کريم مختصر سُورت دے، په دې کښې 1 رکوع، 7 آيتونه، 27 کلمے (يعني الفاظ) او 140 حروف دي. اِمام مجاهِد رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡہ فرمائي: سُورۂ فاتحه په مَدِينه مُنَوَّره کښې نازِله



[1]...تفسير الفاتحة لابن رجب، صفحه:38۔
[2]...معجم اوسط، جلد:2، صفحه:158، حديث:2866۔

شوه. يو قول دا دے چې سُورۂ فاتحه دوه ځله نازل شوي ده، يو ځل په مکه مکرمه کښې او يو ځل په مَدِينه مُنَوَّره کښې.[1]

## شيطان په چغو چغو اوژړل

اِمام جلالُ الدِّين سُيُوطِـي شافعي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه روايت ذِکر کړے دے، فرمائي: ابليس (يعني شيطان) څلور ځله په چغو چغو ژړلي دي: **(1)** يو ځل هغه چې کله پرې لعنت اووئيلے شو **(2)** دويم ځل چې کله زمکې ته راکوز کړے شو **(3)** دريم ځل چې کله د الله پاك آخري رسول صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د نَبُوَّت اعلان اوفرمائيلو **(4)** او څلورم ځل چې کله سُورۂ فاتحه نازله شوه. اِمام مجاهِد رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه فرمائي: چې کله سُورۂ فاتحه نازله شوه نو ابليس په ډير مشقت کښې پريوتلو او ډير زيات ئې په چغو چغو اوژړل.[2]

## سورۂ فاتحه د عرش لاندې د يوې خزانے نه ده

د مسلمانانو څلورم خليفه اَمِيْرُ الْمُؤْمِنِيْن، حضرت عَلِـيُّ المُرتَضٰى رَضِيَ اللهُ عَنۡهُ نه د سُورۂ فاتحه په باره کښې پوښتنه اوکړے شوه نو اوئې



[1] …تفسير صراط الجنان، پاره:1، سورۂ فاتحه، جلد:1، صفحه:37ملتقطاً۔
[2] …تفسير در منثور، پاره:1، سورۂ فاتحه، جلد:1، صفحه:17۔

www.dawateislami.net

فرمائيل: ماته رسولِ اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خبر راکړے دے چې سُورۂ فاتحه د عرش لاندې يوې خزانے نه نازله شوې ده.[1]

سُلطانُ المُفَسِّرين حضرت عبدُالله بِن عبَّاس رَضِیَ اللهُ عَنْهُ فرمائي: يوه ورځ رسولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم تشريف فرما وو، حضرت جبريل امين عَلَيْهِ السَّلَام هم حاضر وو، ناڅاپه د اسمان له طرفه يو غږ اوشو، حضرت جبريل امين عَلَيْهِ السَّلَام اسمان طرفته اوکتل او عرض ئې اوکړو: يَا رَسُولَ اللّٰـه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! دا يوه فرښته ده کومه چې د نن نه مخکښې کله هم زمکې ته نه ده راغلې. دغه فرښته د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خدمت کښې حاضره شوه، سلام ئې عرض کړو، بيا ئې اوفرمائيل: يَا رَسُولَ اللّٰـه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! تاسو ته د دوو نورونو زيرے دے، ستاسو نه وړاندې يو نبـي عَلَيْهِ السَّلَام ته دا دوه نورونه نه دي ورکړے شوي، کوم کس چې د دې (سُورۂ فاتحه او د سُورۂ بقره آخري آيتونو) تلاوت اوکړي، هغه ته به په هر هر حرف باندې خصوصي ثواب ورکړے شي.[2]

حکيمُ الاُمَّت حضرت مفتي احمد يار خان نعيمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: قرآنِ کريم چې د کوم ځائ نه هم اولوستے شي، په هر حرف باندې لس



[1]… تفسير در منثور، پاره:1، سورۂ فاتحه، جلد:1، صفحه:16۔

[2]… مسلم، كتاب صلاة المسافرين، باب فضل الفاتحة، صفحه:290، حديث:806۔

www.dawateislami.net

نيکۍ ميلاويږي خو د سُورۂ فاتحه او سُورۂ بقره آيتونو لوستلو دا فضيلت دے چې په هر هر حرف باندې لس نيکۍ هم ميلاويږي او د دې نه علاوه خصوصي ثواب هم ورکړے کيږي.[1]

## سورۂ فاتحه سورۂ رحمت دے

خوږو اسلامي ورونړو! حکيمُ الاُمَّت حضرت مفتي احمد يار خان نعيمي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه فرمائي: سُورۂ فاتحه بالکل سورۂ رحمت دے، په دې وجه په دې کښې د الله پاك د قهر او غضب او د دوزخ د عذاب ذِکر نشته. بلکه په دې سورت کښې هغه حروف هم نه دي راغلي کوم چې د جَهَنَّم په شروع کښې راځي، په سورۂ فاتحه کښې اووه حروف نشته: **(1)** ثا **(2)** جيم **(3)** خا **(4)** زا **(5)** شين **(6)** ظا او **(7)** فا.

**(1)** ثا: د ثبور وړومبے حرف دے او ثبور د جَهَنَّم يو نوم دے **(2)** جيم: دا د جَحِيم وړومبے حرف دے، دا هم د جَهَنَّم يو نوم دے **(3)** خا: د خزی اوَّلنے حرف دے، د دې معنٰی ده: رُسوائي. **(4)** زا: د زَفِير او زَقُّوم وړومبے حرف دے، زَفِير د دوزخيانو آواز دے او زَقُّوم د دوزخيانو خوراك دے **(5)** شين: د شهيق وړومبے حرف دے، د دې معنٰی ده: د دوزخيانو آواز



[1] ...مرآة المناجيح، جلد:3، صفحه:232 خلاصةً۔

www.dawateislami.net

**(6)** ظا: د ظُلم وړومبے حرف دے او **(7)** فا: د فراق وړومبے حرف دے، معنٰى ئې ده: لرې والے.

امام فخر الدين رازي رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه فرمائي: د دوزخ اووه دروازې دي او په سورۂ فاتحه کښې په عذاب دلالت کوونکي اووه حرفونه نه دي ذکر شوي، دا دې طرفته اشاره ده چې کوم بنده سورۂ فاتحه اولولي، د زړه نه پرې ايمان اوساتي، د دې حقائق اوپيژني هغه به د دوزخ د اووه دروازو نه محفوظ وي-[1]

## سورۂ فاتحه سورۂ شِفا ده

اے عاشِقانِ رسول! د سُورۂ فاتحه خصوصياتو او فضائلو کښې يوه خبره دا هم ده چې سُورۂ فاتحه سورتِ شِفا ده. داسې خو ټول قرآنِ مجيد شِفا ده، ارشاد کيږي:

| | |
|---|---|
| وَنُنَزِّلُ مِنَ الۡقُرۡاٰنِ مَا هُوَ شِفَآءٌ وَّرَحۡمَةٌ لِّلۡمُؤۡمِنِيۡنَ ۙ (پاره:15، سورۂ بنی اسرائيل:82) | [مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالاِيمان: او مونږه په قرآن کښې هغه څه نازلوو کوم چې د ايمان والؤ د پاره شِفا او رحمت دے. |

البته سُورۂ فاتحه ته خاص طور سورۂ شِفا وئيلے کيږي. د الله پاك آخري نبـي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: هِيَ اُمُّ الۡكِتَابِ وَ هِيَ شِفَاءٌ



[1]...تفسيرِ کبير، پاره:1، سورۂ فاتحه، جلد:1، صفحه:160و161۔

www.dawateislami.net

مِّنۡ كُلِّ دَاءٍ يعني سُورۂ فاتحه اُمُّ الْكِتاب (د قرآنِ مجيد اصل) دے او په دې كښې د هرې بيمارئ شِفا ده.[1]

## د لړم چيچلو دَم

د بُخاري او مُسلم شريف په روايت كښې دي، د هغې خُلاصه څه داسې ده چې يو ځل 30 صحابۂ كرام عَلَيۡهِمُ الرِّضۡوان په سفر كښې وو، په لاره كښې په يو مقام باندې يو كس راغے او صحابۂ كرامو عَلَيۡهِمُ الرِّضۡوان ته ئې عرض اوكړو: زمونږه سردار لړم چيچلے دے، آيا تاسو څه كولے شئ؟ يو صحابي رَضِيَ اللهُ عَنۡهُ اوفرمائيل: آؤ! زه به ئې دَم كړم. هغه صحابي رَضِيَ اللهُ عَنۡهُ د هغه سړي سره لاړو او سُورۂ فاتحه ئې اولوستله دَم ئې كړو، چې د هغې په بركت مريض ټيك شو.[2]

حضرت خارجه بِن صَلت رَضِيَ اللهُ عَنۡهُ د خپل تره نه روايت كوي، هغوئي فرمائي چې زه د رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خدمت كښې حاضر ووم، هلته په بيرته راتلو باندې د يو قوم په خوا تيريدم، د هغوئي يو كس مجنون (يعني پاګل) وو، هغه ئې د اوسپني په زنځير تړلے وو، هغوئي ماته اووئيل: آيا



[1]…تفسير در منثور، پاره:1، سورۂ فاتحه، جلد:1، صفحه:15۔
[2]…بخاري، كتابُ الاجاره، صفحه:585، حديث:2276۔

www.dawateislami.net

تاسو د ده علاج کولے شئ؟ بيا ما درے ورځے سحر ماښام په سُورۂ فاتحه لوستلو سره دَم کړو نو د دې په برکت هغه پاګل کس ټيك شو.[1]

## دَم کول جائز دي

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼو!** د دې دوو واقعو نه معلومه شوه چې په قرآنِ کريم سره علاج کول، د قرآنِ مجيد آيتونه لوستل او دَم کول، دا ليکل او تعويذ جوړول وغيره بالکل جائز دي. صحابۂ کرامو عَلَيۡهِمُ الرِّضۡوان به هم دَم کولو بلکه پخپله زمونږه خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هم دَم کولو او نورو ته به ئې هم زده کولو. اُمُّ الْمُؤْمِنِيْن، حضرت عائشه صِدِّيقه رَضِيَ اللهُ عَنۡهَا فرمائي: نبـي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ماته حکم کړے وو چې د نظر لګيدو دَم کوه![2]

په يو حديثِ پاك کښې دي: د الله پاك آخري نبـي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د کور په کسانو کښې چې به څوك بيمار شو نو خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د قرآنِ کريم آخري دوه سورتونه (يعني سورۂ فَلَق او سورۂ النَّاس) لوستل او دَم کولو به ئې.[3]

323

[1]…معجم کبير، جلد:7، صفحه:89، حديث:13944۔

[2]…بخاری، کتاب الطب، باب رقية العين، صفحه:1451، حديث:5738۔

[3]…مسلم، کتاب السلام، باب رقية المريض، صفحه:866، حديث:2192۔

يو ځل د خوږ نبـي صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خدمت کښې بيماري حاضره شوه [يعني خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم بيمار شو] نو حضرت جبريل امين عَلَيۡهِ السَّلام يو څو کلمات اولوستل او خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ئې دَم کړو.[1]

سُبۡحٰنَ اللّٰه! معلومه شوه چې په قرآني آيتونو او مُقَدَّسو کلماتو لوستلو سره دَم کول زمونږ د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هم سُنَّت دي، د صحابۀ کرامو عَلَيۡهِمُ الرِّضۡوان هم سُنَّت دي او د فرښتو د سردار حضرت جبريل امين عَلَيۡهِ السَّلام هم سُنَّت دي. آؤ! په بعضې احاديثو کښې د تعويذونو په غاړه کولو نه منع راغلې ده، د دې نه مراد هغه تعويذونه دي په کومو کښې چې ناجائزه الفاظ شامل وي کوم چې به د جاهليت په زمانه کښې کيدل. د دې نه علاوه د قرآنِ پاک په آياتونو، د مُقَدَّسو الفاظو، د الله پاك د مبارکو نومونو او د مختلفو دُعاګانو په ذريعه دَم کول، په کاغذ ليکل يا په بل چا ليکل او په غاړه کول بالکل جائز دي.[2]

## د روحاني علاج ذِهن جوړ کړئ

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! اَلۡحَمۡدُ لِلّٰه! ټول قرآن او خاص طور په سُورۂ فاتحه کښې د هر مرض شِفا ده. مونږه د ډاکټرانو خواله څو، د



[1]...مسلم، کتاب السلام، باب الطب والمرض، صفحه:864، حديث:2185۔

[2]...بهارِ شريعت، جلد:3، صفحه:419و420، حصه:16بتقدم وتاخر۔

حکيمانو، طبيبانو نه علاج کوو، که په دې کښې څه د شريعت خلاف خبره نه وي نو دا علاج کول بالکل جائز دي. البته مونږ له د روحاني علاج ذِهن هم جوړول پکار دي.

د الله پاك آخري نبـي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: د مخلوق د حمد نه اوَّل الله پاك پخپله خپل حمد بيان کړو، د دې حمد په ذريعه علاج اوکړئ! صحابهٔ کرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان عرض اوکړو: يَـا رَسُولَ الـلّٰـه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! هغه حمد کوم يو دے؟ اوئې فرمائيل: سُورۂ فاتحه او سُورۂ اِخلاص. بيا ئې اوفرمائيل: فَمَنْ لَمْ يَشْفِهِ الْقُرْآنُ فَلَا شَفَاهُ اللّٰهُ يعني چاته چې د قرآن نه هم شِفا ميلاؤ نشي، الله پاك شِفا نه ورکوي.[1]

خوږو او محترمو اسلامي وروڼړو! اوګورئ! قرآنِ کريم او خاص طور د سُورۂ فاتحه په ذريعه د علاج کولو مُتَعَلِّق څنګه واضحه حديثِ پاك دے. مونږ له ذِهن جوړول پکار دي که ❀ تبه وي❀ په سر درد وي ❀ په بدن کښې چرته درد وي ❀ شوګر، کوليسټرول [د بدن غوړ والے] ❀ د زړه مرضونه ❀ کينسر، غرض هر قِسمه وړوکي يا لويه بيماري وي، د قرآنِ مجيد په ذريعه علاج اوکړئ! اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيْم! الله پاك به کرم اوفرمائي او که الله پاك اوغواړي نو شِفا به مو نصيب شي.



[1] ...تفسير در منثور، پاره:1، سورۂ فاتحه، جلد:1، صفحه:17۔

## دعوتِ اسلامي او شعبه روحاني علاج

اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د عاشقانِ رسول ديني تحريك دعوتِ اسلامي د خارنې لاندې شعبه روحاني علاج کښې د خوږ نبـي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د اُمَّت د غمخوارۍ د پاره ډير اسلامي ورونړه په مختلفو مقاماتو باندې بستے لګوي او هره ورځ په لکونو بيمارانو ته تعويذونه ورکوي، استخاره کوي او اوراد او وظائف ورته ښائي. په مدني چينل باندې د روحاني علاج پروګرام هم نشر کيږي. په هغې کښې استخاره هم کيږي او مريضانو، پريشان حالو ته اوراد او وظائف هم ښودلے کيږي.

## په سُورۂ فاتحه کښې د هر څيز حل دے

اے عاشِقانِ رسول! په سُورۂ فاتحه کښې يواځې د جسماني بيمارو د پاره علاج نه دے بلکه په دې کښې د هرې مسئلے حل دے. حضرت عطاء رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: چاته چې څه حاجت وي، هغه دې د سُورۂ فاتحه تلاوت اوکړي، د دې په برکت به ئې حاجت پوره شي.[1] علمائے کرام فرمائي: 100 ځله د سُورۂ فاتحه لوستلو سره چې کومه دُعا اوکړے شي، قبوله به شي.



[1]...تفسير در منثور، پاره:1، سورۂ فاتحه، جلد:1، صفحه:17۔

www.dawateislami.net

## د دُعاګانو قبليدلو وظيفه

سُبۡحٰنَ اللّٰه! څنګه آسان حل دے...! چې څه مشکل وي، پريشاني وي، تنګ دستي وي، څه پريشاني راشي، څه حاجت درپيښ شي، سورۂ فاتحه اولولئ، دُعا اوغواړئ! اِنۡ شَآءَ اللّٰهُ الۡكَرِيۡم! الله پاك به كرم اوفرمائي او مشكل، پريشاني، تنګ دستي به لرې شي.

## د بد نظر نه د حفاظت وظيفه

صحابئ رسول حضرت عمران بِن حُصَين رَضِیَ اللّٰهُ عَنۡهُ فرمائي: د الله پاك خوږ حبيب صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: په كوم كور كښې چې سُورۂ فاتحه او آيةُ الكُرسي اولوستے شي، په هغه كور كښې به په دغه ورځ د يو پيرې يا د چا انسان بد نظر نه راځي.[1]

## سُورۂ فاتحه د قرآن د دريمې حصې برابر دے

د حضرت عبدُ الله بِن عَبَّاس رَضِیَ اللّٰهُ عَنۡهُمَا نه روايت دے چې د الله پاك خوږ نبـي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: چا چې سُورۂ فاتحه او سُورۂ اِخلاص اولوستلو، هغه ګني د قرآنِ مجيد دريمه حِصَّه تلاوت كړه. په يو حديثِ پاك



[1]...جامع صغير، صفحه:360، حديث:5830۔

www.dawateislami.net

کښېږي دي: سُورۂ فاتحه د قرآنِ مجید په دریو حِصو کښېږي د دوو حِصو برابره ده.[1]

## د اوده کیدلو نه مخکښې د سُورۂ فاتحه لوستلو فضیلت

د حضرت اَنس بِن مالِك رَضِیَ اللہُ عَنْہُ نه روایت دے چې د الله پاك آخري نبـي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: کله چې تاسو په بستره سملئ نو سُورۂ فاتحه او سُورۂ اِخلاص اولولئ! د دې په برکت سره به د مرګ نه علاوه د هر څیز نه محفوظه شئ.[2] په یو حدیثِ پاك کښې دي، فرمائي: کله چې په تاسو کښې یو کس په بستره سملي او سُورۂ فاتحه اولولي نو الله پاك به د هغه سره یوه مُحافِظه فرښته مقرر کړي.[3]

اے عاشِقانِ رسول! د سُورۂ فاتحه صرف اووه آیتونه دي، مونږه هره ورځ په لمَانځه کښې سُورۂ فاتحه لولو، په پوره سورت لوستلو صرف یو څو سیکنډه لګي او فضیلتونه ئې څومره دي؟ سُبْحٰنَ اللّٰه! یو ځل سُورۂ فاتحه لوستونکـي ته په هر حرف باندې لس نیکئ میلاویږي، یو ځل سُورۂ فاتحه لوستونکـے داسې دے لکه هغه چې د قرآنِ کریم دریمه حِصَّه

323

1 ...جامع صغیر، صفحه:360، حدیث:5828۔

2 ...مسند بزّار، جلد:14، صفحه:11، حدیث:7393۔

3 ...تاریخ دمشق، جلد:22، صفحه:413۔

تلاوت کړې وي، د اوده کیدو په وخت یو ځل د سُورۂ فاتحه لوستلو سره الله پاك یوه مُحافِظه فرښته مقرر کوي.

الله پاك دې مونږ ته د سُورۂ فاتحه او پوره قرآنِ مجید تلاوت کولو شوق رانصیب کړي. اٰمین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

دے شوقِ تلاوت دے ذوقِ عبادت | رہوں باوُضو میں سَدا یاالٰہی[1]

## سُورۂ فاتحه د مناجات سورت دے

علمائے کرام فرمائي: سُورۂ فاتحه د مناجات سورت دے. د دې معنٰی ده: په قلاره قلاره خبرے کول، دُعا او زاري کول. کله چې بنده د الله پاك په بارګاه کښې داسې دُعا اوکړي لکه هغه چې د الله پاك سره خبرے کوي، دې ته مناجات وائي.

سُورۂ فاتحه د مناجات سورت دے. د دې د شروع په آیتونو کښې د الله پاك حمد او ثنا ده، د دې نه پس د بندګانو له طرفه دُعا غوښتلے شوې ده.

د حضرت اَبُو هُریره رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ نه روایت دے چې خوږ آقا صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائي: الله پاك فرمائي: دا لمُونځ (یعني سُورۂ فاتحه) زما او د بنده په مینځ کښې نیم نیم تقسیم کړے شوے دے. بنده لولي:



[1]...وسائلِ بخشش، صفحه:102۔

www.dawateislami.net

| | |
|---|---|
| اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۱﴾<br>(پاره:1،سورۂ فاتحه:1) | [مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالاِیمان: ټول تعريفونه الله لره دي كوم چې د ټولو جهانونو والؤ پالونکے دے. |

د دې په جواب کښې الله پاك فرمائي: زما بنده زما حمد بيان كړو. بنده لولي:

| | |
|---|---|
| الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ﴿۲﴾<br>(پاره:1،سورۂ فاتحه:2) | مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالاِیمان: ډير مهربان رحم والا. |

الله پاك فرمائي: زما بنده زما ثنا بيان كړه. بنده لولي:

| | |
|---|---|
| مٰلِكِ يَوْمِ الدِّيْنِ ﴿۳﴾<br>(پاره:1،سورۂ فاتحه:3) | مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالاِیمان: د جزا د ورځې مالِک. |

الله پاك فرمائي: زما بنده زما بُزرګي بيان كړه. بنده لولي:

| | |
|---|---|
| اِيَّاكَ نَعْبُدُ وَاِيَّاكَ نَسْتَعِيْنُ ﴿۴﴾<br>(پاره:1،سورۂ فاتحه:4) | مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالاِیمان: مونږه خاص ستا عبادت کوو او خاص ستا نه مدد غواړو |

الله پاك فرمائي: دا زما او د بنده په مينځ كښې برابر دي (چې بنده د الله پاك عبادت كوي، الله پاك د بنده مدد كوي). بيا بنده لولي:

اِهۡدِ نَا الصِّرَاطَ الۡمُسۡتَقِيۡمَ ۙ﴿۵﴾ صِرَاطَ الَّذِيۡنَ اَنۡعَمۡتَ عَلَيۡهِمۡ ۙ۬ غَيۡرِ الۡمَغۡضُوۡبِ عَلَيۡهِمۡ وَ لَا الضَّآلِّيۡنَ ﴿۷﴾

(پاره:1،سورۂ فاتحه:5تا7)

مَفهُوم ترجمۂ كنزُالاِيمان: مونږه په نيغه لاره روان كړې، د هغه خلقو لاره په كومو چې تا اِحسان كړے دے، نه د هغه خلقو [لاره] په كومو چې غضب شوے دے او نه د گمراهانو.

الله پاك فرمائي: دا زما د بنده د پاره دي او زما د بنده د پاره هغه څه دي د كوم ئې چې سُوال كړے دے.[1]

سُبۡحٰنَ اللّٰه! خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! غور اوكړئ! دا څومره عظيم فضيلت دے. د سُورۂ فاتحه اووه آيتونه دي، بنده يو يو آيت لولي، الله پاك هغه اوري هم او په هر آيت باندې جواب هم وركوي. عَلّامه اِبنِ رَجَب حنبلي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه فرمائي: دا (يعني د بنده سُورۂ فاتحه لوستل او د الله پاك جواب فرمائيل، دا) د سُورۂ فاتحه خاص فضيلت دے كوم چې د دې نه علاوه په يو سُورت كښې هم نشته.[2]



[1]...مسلم، كتاب الصلاة، باب وجوب قراءة الفاتحة، صفحه:154، حديث:395۔

[2]...تفسير ابن رجب حنبلي، پاره:1، سورۂ فاتحه، جلد:1، صفحه:68۔

www.dawateislami.net

# د سورۂ فاتحه د مضامینو بیان

خورېو او محترمو اسلامي ورونړو! سُورۂ فاتحه هغه عظیم سورت دے چې د دې صرف اووه آیتونو کښې د پوره قرآنِ کریم خلاصه بیان شوې ده بلکه په حدیثِ پاك کښې دي: چا چې د سورۂ فاتحه تلاوت اوکړو هغه داسې دے لکه هغه چې د تورات، زبور، انجیل او قرآنِ پاك (یعني څلورو اسماني کتابونو) تلاوت کړے وي.[1]

د حضرت اِمام حَسَن بصري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه نه روایت دے: الله پاك 104 صحیفے نازل کړې دي، د دې 104 صحیفو مضامین ئې په 4 لویو اسماني کتابونو تورات، زبور، انجیل او قرآنِ پاك کښې بیان کړي دي، بیا ئې د تورات، زبور او انجیل ټول علوم په قرآنِ پاك کښې بیان کړل او د ټول قرآنِ مجید علوم ئې په سُورۂ فاتحه کښې جمع کړل، بس څوك چې د سُورۂ فاتحه په تفسیر پوهه شو، ګنې هغه د ټولو اسماني کتابونو تفسیر اولوستلو.[2]

خورېو او محترمو اسلامي ورونړو! اندازه اولګوئ! سُورۂ فاتحه څنګه جامع سورت دے، په دې اووه مختصر آیتونو کښې څومره ډېر علوم جمع کړے شوي دي. په دې وجه د مسلمانانو څلورم خلیفه اَمِیْرُ الْمُؤْمِنِیْن،



[1]... تفسیر در منثور، پاره:1، سورۂ فاتحه، جلد:1، صفحه:16۔

[2]... شُعَبُ الایمان، باب فی تعظیم القرآن، جلد:2، صفحه:451، حدیث:2371۔

www.dawateislami.net

حضرت عَلِـيُّ المُرتَضٰی رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ فرمائي: كه زه اوغواړم نو د سُورۂ فاتحه د تفسير نه اويا اوښان ډك كړم.[1]

اعلٰـی حضرت رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡہ فرمائي: يو اوښ څو منه بوج اوچتوي او په هر من كښې څو زره اجزاء وي؟ كه د دې حساب اولګولے شي نو دا تقريباً 25 لاكهه جلدونه جوړيږي.دا صرف د سُورۂ فاتحه تفسير دے، بيا د باقي كلامِ عظيم به څومره شمير وي...!![2]

## د سُورۂ فاتحه يو مركزي مضمون

اے عاشِقانِ رسول! حق خو دا دے چې د سُورۂ فاتحه ټول علوم پيژندل، هغه بيانول زمونږ د وس خبره نه ده، البته علمائے كرامو ډير غور او فِكر كړے دے، د قران او حديث او علمِ دين غټ غټ كتابونه ئې مخے ته اېښودي دي او د سُورۂ فاتحه يو مركزي مضمون ئې بيان كړے دے، هغه څه دے؟ هغه دا دے: مُرَاقَبَةُ الْعِبَادِ لِرَبِّهِمْ يعني د بنده خپل ربّ لره مراقبه كول.[3] دا د سُورۂ فاتحه مركزي مضمون دے يا داسې اووائې چې



[1]...قُوتُ القلوب، جلد:1، صفحه:92۔

[2]...فتاوٰی رضويه، جلد:22، صفحه:619۔

[3]...نَظمُ الدُّرَرْ، جلد:1، صفحه:21۔

www.dawateislami.net

بنيادي طور په سُورۂ فاتحه کښې کوم څيز مونږ ته ښودلے شوے دے، هغه دا مراقبه ده.

## مراقبه څه ته وائي...؟

مُراقَبه د يو تعلق نوم دے، د بنده خپل ربّ سره مضبوط ترين تعلق، دومره مضبوط چې د بنده زړه، دِماغ، د هغه سوچونه، خيالونه او ټوله توجُّه هر وخت د الله پاك طرفته وي، چې بنده ته هر وخت دا يقين وي چې زما ربّ ما ويني، هغه زما ظاهر حال او زما باطن ويني. دې ته مُرَاقَبَةُ الله وائي.

## د مراقَبے په يو مثال سره وضاحت

اِمام قُشَيري رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه د مراقَبے د يو مثال په ذريعه وضاحت کړے دے، فرمائي: يو بادشاه وو، د هغه يو څو غلامان وو، بادشاه به په هغوئې کښې د يو غلام سره خاص محبت کولو، په ظاهره په هغه کښې څه داسې خاص خبره نه وه، بيا هم بادشاه هغه خوښولو، نورو غلامانو به دا خبره نه خوښوله، يو ځل هغه غلامانو هِمَّت اوکړو او د بادشاه سلامت په خدمت کښې ئې عرض اوکړو، چې: بادشاه سلامت! په دې غلام کښې کومه خاص خبره ده چې تاسو په ده باندې دومره ډير مهربانه ئې؟ بادشاه د سوال جواب ورنکړو بلکه اوئې وئيل: مونږ ته يو سفر راپيښ دے، تياري

اوکړئ! مونږه په سفر روانيږو. اسونه تيار کړے شو او بادشاه سلامت د خپلو غلامانو سره په سفر روان شو، د غرئيځې علاقے سفر وو، چې لږ لرې لاړل نو مخے ته يو غر ښکاره شو کوم چې د واورې نه ډك وو، بادشاه سلامت د لرې نه دغه غر اوليدلو او سر ئې ټيټ کړو. څنګه چې بادشاه سر ټيټ کړو، هغه غلام کوم چې د بادشاه منظورِ نظر وو، هغه د اس واګې راښکودې (يعني اس له ئې منډه ورکړه او مخکښې تير شو). ټول حيران وو چې آخر په ده څه اوشو؟ دا چرته روان دے؟ لږ ساعت پس غلام بيرته راغلو، د هغه په لاس کښې واوره وه. بادشاه ترينه تپوس اوکړو: تا دا واوره ولے راوړه؟ اوئې وئيل: بادشاه سلامت! تاسو د دې واورې غر ته اوکتل، بيا مو سر ټيټ کړو، ماته پته ده چې تاسو بے وجې داسې نه کوئ، زه پوهه شوم چې بادشاه سلامت واوره غواړي.

د دې په اوريدلو بادشاه خپلو غلامانو ته مخاطَب شو اوئې فرمائيل: اوګورئ! تاسو ټول په خپلو خپلو کارونو کښې مصروف اوسئ، ستاسو تَوَجُّه خپل ځان طرفته وي خو دا زما هغه غلام دے چې د ده تَوَجُّه هر وخت زما طرفته وي، زه څه وينم، څه کووم، زما نظر کوم طرفته اوچتيږي، دا په هغې باندې توجه ساتي، هم دغه وجه ده چې زه د ده سره زيات محبت کووم.[1]



[1]…رساله قشيريه، باب المراقبة، صفحه:225۔

www.dawateislami.net

خوږو او محترمو اسلامي وروڼړو! هم دا مُراقَبَه ده ❀ چې د بنده توجُّه هر وخت خپل ربّ طرفته قائمه وي ❀ که بنده په دُکان کښې وي، بيا ئې هم تَوَجُّه ربّ طرفته وي ❀ که په کور کښې وي، بيا ئې هم تَوَجُّه ربّ طرفته وي، غرض دا چې هر وخت، په هر حال کښې د بنده تَوَجُّه ربّ طرفته وي، دا مراقَبَه ده.

## سُورۂ فاتِحه او د مراقبے تعليم

د مراقَبې د پاره د دوو څيزونو ضرورت دے: **(1)** بنده له خپل ربّ پيژندل **(2)** بنده له خپل ځان پيژندل.

## (1) د ربّ پيژندل

چاته چې معلومه نه وي چې زما ربّ څوك دے؟ د هغه صِفات څه دي؟د هغه شان څه دے؟ هغه بنده ګمراه کيږي. د يمن يو بادشاه وو، هغه ته الله پاك قُوَّت او طاقت ورکړے وو، لويه بادشاهي ئې ورته عطا کړې وه، په هغه باندې د نِعمتونو باران اوشو، دَ به د خپل فوج سره علاقے فتح کولے، تر دې پورې چې د لرې لرې پورې ئې بادشاهي خوره شوه. يوه ورځ ئې خيال راغے، دا کائنات څنګه چليږي؟ د دې چلوونکے څوك دے؟ ورځ څنګه راځي؟ شپه څنګه کيږي؟ مونږ ته دومره قُوَّت او طاقت د چرته نه ميلاويږي؟

علمِ دين خو ئې نه پيژندلو، بس عقل ئې استعمالوو، د ډېرو ورځو سوچ بچار نه پس هغه فيصله اوکړه چې کائنات د لمَر په ذريعه چليږي، د لمَر په ذريعه ورځ شپه بدليږي، د لمَر په ذريعه فصلونه پخيږي؟ د لمَر په ذريعه خوراك ميلاويږي، نو دا لمَر خُدائے دے. اَسْتَغْفِرُ اللّٰه! اَسْتَغْفِرُ اللّٰه!

دې بدبخته خپل عقل استعمال کړو نو شيطان په شرك کښې اخته کړو او د لمَر عبادت ئې شروع کړو.

اوګورئ! بادشاه ربّ نه پيژندلو، هغه ته د الله پاك د صفاتو علم نه وو، د الله پاك د شان او عظمت نه بےخبره وو، بخپله په سوچ او فِکر کښې پريوتلو او ګمراه شو. معلومه شوه مُراقَبې کولو د پاره ضروري ده چې د الله پاك پيژندګلو هم وي، د هغه شان او عظمَت هم معلوم وي.

## سُورۂ فاتحه او د الله پاك صفات

الله پاك د سُورۂ فاتحه په شروع کښې خپل صفات بيان کړي دي:

| | |
|---|---|
| اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ۝۱ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ۝۲ مٰلِكِ يَوْمِ الدِّيْنِ ۝۳ (پاره:1، سورۂ فاتحه:1 تا 3) | مَفهُوم[ ترجمۂ كنزُالايمان: ټول تعريفونه الله لره دي کوم چې د ټولو جهانونو والؤ پالونکے دے. ډېر مهربان رحم والا. د جزا د ورځے بادشاه. |

معلومه شوه چې حقيقي ربّ هغه دے کوم چې د تعريفونو مالِك دے، هغه د هر نقص، هر عيب نه پاك دے، خوبيانو والا دے، د ټولو جهانونو پالونکے دے، په کانړي باندې تلونکي وړوکي چينجي ته هم رزق ورکوي او د هاتي په شان غټ ځناور ته هم رزق ورکوي، هغه رحمٰن هم دے، رحيم هم دے او هغه حقيقي ربّ د جزا د ورځې مالِك هم دے. دا د حقيقي ربّ پيژندګلو ده.

## (2) د ربّ پيژندل

دويم څيز کوم چې د مُراقَبې د پاره ضروري دے، هغه دا چې بنده ېڅپله خپل ځان پيژني ځکه چې څوك ېڅپله ځان نه پيژني، هغه په خپل سوچ کښې مشغول اوسي. ځکه بنده چې تر څو پورې خپل ځان اونه پيژني، تر هغه وخته پورې هغه الله پاك طرفته نشي مُتَوَجِّه کيدے.

اوس د بنده پيژندګلو څه ده؟ د بنده د ټولو نه لويه پيژندګلو دا ده چې بنده عاجزه دے، کمزورے، محتاجه دے. مونږه اوږي کيږو، ځکه مونږه د خوراك محتاجه يو، مونږه تږي کيږو، مونږه د کتلو د پاره د سترګو محتاجه يو، د اوريدلو د پاره د غوږونو محتاجه يو، د نيولو د پاره د لاسونو محتاجه يو، د خبرو کولو د پاره د ژبے محتاجه يو، چې سوچ کوو نو د زړه او دماغو

محتاجه يو، غرض مونږه په هر هر کار کښې او هره هره مُعامَله کښې محتاجه يو.

کله چې بنده دا اوپيژني چې زه هر وخت محتاجه يم او دا هم پيژني چې الله رَبُّ الْعٰلَمِيْن دے، نو بيا هغه د خپل ربّ په حُضُور کښې سر ښکته کوي او په عاجزئ سره عرض کوي:

| | |
|---|---|
| اِيَّاكَ نَعْبُدُ وَاِيَّاكَ نَسْتَعِيْنُ ﴿۴﴾ (پاره:1،سورۂ فاتحه:4) | مَفهُوم ترجمهٔ کنزُالاِيمان: مونږه خاص ستا عبادت کوو او خاص ستا نه مدد غواړو |

اوګورئ! بنده د خپل ربّ په بارګاه کښې عرض کوي: مولٰی زه ستاسو نه مدد غواړم. په کومه مُعامَله کښې؟ په هره يوه مُعامَله کښې ❁ اوريې شوي يو، ❁ په دې وجه خوراك هم پکار دے ❁ لاسونه هم پکار دي ❁ خُله هم پکار ده ❁ غاښونه هم پکار دي ❁ دا ټول نعمتونه څوك ورکوي، الله پاك ورکوي ❁ سترګې ❁ غوږونه ❁ خُله ❁ لاس ❁ ښپے ❁ دا بدن ❁ دا ځان ❁ دا ساه ګانے ❁ ژوند ❁ دا ټول نعمتونه څوك ورکوي؟ الله پاك ورکوي ❁ مونږه په هر هر ساعت کښې د الله پاك محتاجه يو ❁ مونږ ته په هر هر ساعت کښې د الله پاك د مدد ضرورت دے ❁ کله چې طعام ميلاؤ شي نو تَوَجُّه به صرف او صرف الله پاك طرفته وي ❁ کله چې يو څيز طرفته مو لاس ورمخکښې شي، مونږه هغه

اونيسو نو تَوَجُّه به مو صرف الله پاك طرفته وي ❁ كله چې سترګې اوچتې كړو او د دې رنګا رنګ دُنيا نظارې اوكړو نو تَوَجُّه به صرف الله پاك طرفته وي ❁ څكه بنده هر وخت او هر ساعت الله پاك طرفته تَوَجُّه ساتلو، د الله پاك په يادونو كښې د اوسيدلو محتاج دے او هم دغه هغه كيفيت دے كوم ته چې مراقَبَه وائي.

## د صراطِ مُستقيم دُعا

اوس چې كله بنده الله پاك هم پيژني، خپل ځان هم پيژني، نو عرض كوي:

| | |
|---|---|
| اِهۡدِ نَا الصِّرَاطَ الۡمُسۡتَقِيۡمَ ۙ﴿۵﴾ صِرَاطَ الَّذِيۡنَ اَنۡعَمۡتَ عَلَيۡهِمۡ ۙ۬ غَيۡرِ الۡمَغۡضُوۡبِ عَلَيۡهِمۡ وَ لَا الضَّآلِّيۡنَ ﴿۷﴾ (پاره:1،سورۂ فاتحه:5تا7) | مفهوم ترجمهٔ كنزُالايمان: مونږه په نيغه لاره روان كړې، د هغه خلقو لاره په كومو چې تا اِحسان كړے دے، نه د هغه خلقو [لاره] په كومو چې غضب شوے دے او نه د ګمراهانو. |

يعني اے الله پاكه! ما په صراطِ مستقيم باندې قائم اوساته، چې زما تول ژوند په صراطِ مستقيم باندې تير شي، شيطان، نفسِ اَمَّاره كله هم ما د صراطِ مستقيم نه بے لارې نكړي او زه هميشه ستا د لورې د اِنعام شوؤ بندګانو په لاره روان شم.

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! غور اوکړئ! د ترتیب په اعتبار سره سُورۂ فاتحه د قرآنِ کریم وړومبے سُورت دے، د دې نه قرآنِ مجید شروع کیږي او په شروع کښې ځومره جامع درس مونږ ته راکړے شوے دے، ګویا دا د قرآنِ مجید وړومبے تعلیم دے چې بنده هر وخت خپل ربّ طرفته مُتَوَجِّه اوسي، د خپل ربّ سره خپل تعلق مضبوط کړي.

مونږ له پکار دي چې مونږه د ژوند خپل یو یو ساعت په دې تَصَوُّر کښې تیر کړو چې زه بنده یم، الله پاك زما ربّ دے، زه هر ساعت د خپل ربّ محتاجه یم او هغه ماویني.

## د توجُّه اِلَی الله فضیلت

د الله پاك آخري نبـي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم حضرت عبدُ الله بِن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته نصیحت کوي، فرمائي: اِحْفَظِ اللّٰهَ يَحْفَظُكَ ته الله پاك په خپل نظر کښې اوساته، الله پاك به ستا حفاظت اوفرمائي. اِحْفَظِ اللّٰهَ تَجِدْهُ تُجَاهَكَ ته الله پاك په خپل نظر کښې اوساته، ته به هغه خپلې مخے ته اوموميې.[1]

حضرت عَلَّامه مُلَّا علـي قاري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د دې حدیثِ پاك په شرح



[1]…ترمذی، ابواب صفة القیامة، صفحه:594، حدیث:2516۔

www.dawateislami.net

کښې ليکي: يعني د کوم څيز چې الله پاك حکم کړے دے، په هغې باندې عمل اوکړئ، د کوم نه ئې چې منع کړي ئې، د هغې نه ځان بچ اوساتئ نو الله پاك به په دُنيا کښې د مصيبتونو او پريشانو نه او د آخرت د عذاب نه ستاسو حفاظت اوکړي. نور فرمائي: څوك چې د الله پاك شي، الله پاك د هغه شي.[1]

الله پاك دې مونږ ټولو ته د نيکئ هدايت را نصيب کړي، کاش! زمونږه زړه هر وخت الله پاك طرفته مُتَوَجِّه وي، هر وخت د الله پاك په ذِکر سره زړه آباد وي او مونږه دغه شان د خوږ خوږ ذِکر سره ژوند تير کړو. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د صحيح قرآن لوستلو فضيلت

د حضرت زيد بن ثابت رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دے چې خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: اِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ اَنْ يُّقْرَءَ الْقُرْآنُ كَمَا اُنْزِلَ بے شکه الله پاك خوښوي چې قرآن داسې اولوستے شي څنګه چې نازل شوے دے.[2] په يو بل مقام کښې ارشاد فرمائي: اِقْرَءُوا الْقُرْاٰنَ بِلُحُوْنِ الْعَرَبِ قرآن د عربو په

323

[1]...مرقاة المفاتيح، کتاب الرقاق، جلد:9، زيرِ حديث:5302، صفحه:490۔
[2]...جامع صغير، صفحه:117، حديث:1897۔

لهجه كښې اولولئ.[1]

## 12 ديني كارونو كښې يو ديني كار: مدرسةُ المَدينه بالغان

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! د دعوتِ اسلامي ذِيلي حلقے 12 ديني كارونو كښې يو ديني كار: **مدرسةُ المَدينه بالغان** هم دے. اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د دعوتِ اسلامي په نګرانئ كښې په ملك او بهر ملكونو كښې په سوونو مدارسُ المَدينه بالغان لګي، په هغې كښې د لوئي عمر اسلامي وروڼو ته صحيح تجويد او مخرجونو سره قرآنِ كريم نورو ته لوستلے كيږي، او مختلف سُنَّتونه او آداب زده كولے كيږي. تاسو هم په مدرسةُ المَدينه بالغان كښې كه نورو ته د لوستلو قابليت لرئ نو نورو ته د لوستلو، ګنې پخپله د لوستلو نِيَّت اوكړئ. راځئ د ترغيب د پاره يو مدني سپرلے اورو:

## په كور كښې مدني انقلاب

د دُنيا پور (ضلع لودهراں، پنجاب) د يو اسلامي ورور د بيان خلاصه ده چې د دعوتِ اسلامي ديني ماحول كښې د راتلو نه مخكښې زما عملي حالت ډير افسوس ناك وو، لمُونځ، روژو نه لرې د بےحيائي او بدنظرئ شوقين ووم او د ديني معلوماتو نه بےخبره ووم. زمونږه پوره كور د فلمونو، ډرامو بے



[1]...نوادر الاصول، في ان القرآن مثله، جلد:2، صفحه:242۔

www.dawateislami.net

حده شوقين وو. زما د تيارو نه ډك ژوند كښې د نيكو سحر هغه وخت را اوختلو، كله چې مونږه په خانيوال ښار كښې اوسيدلو، يوه ورځ د دعوتِ اسلامي سره د تړون لرونكي يو اسلامي ورور په انفرادي كوشش سره ماته په مدرسةُ المَدينه بالغان كښې د تجويد او قراءت مطابق د قرآنِ كريم زده كولو ذِهن راكړو كومه چې په جامع مسجد ګلزارِ مدينه لوكو شيډ كښې قائمه وه. د هغه په پوهه كولو ما په مدرسةُ المَدينه بالغان كښې داخله واخستله او په پابندۍ سره مې شركت كول شروع كړه. د دې په بركت ما د لَمانځه، روژو، اوداسه او غسل وغيره مسائل زده كړل او د دعوتِ اسلامي ديني ماحول ته نزدې شوم، په دې دوران كښې د اَمِيرِ اهلسنّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَهْ د رسالو لوستلو سره د آخرت د سوچ ذِهن نصيب شو. كله چې زما مكمل د ديني ماحول سره تعلق جوړ شو نو د كور په خلقو مې اِنفرادي كوشش شروع كړو. د الله پاك په كرم او د اَمِيرِ اهلسنّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَهْ له خوا د وركړے شوي په كور كښې د ديني ماحول جوړولو په 15 مدني ګلونو باندې د عمل كولو په بركت په هغوئې كښې هم اِنقِلاب راغلو. اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د فلمونو ډرامو سلسله هم بنده شوه. ټول د اَمِيرِ اهلسنّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَهْ په ذريعه سلسلۀ عاليه قادريه رضويه كښې داخل شو او عطاريان جوړ شو.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! د بيان په آخره کښې د سُنَّتو فضيلت او د يو څو سُنَّتونو او آدابو بيانولو ثواب حاصلووم. يوه ورځ تاجدارِ رِسالت، شَهَنْشاهِ نُبُوَّت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم درېي ځله اِرشاد اوفرمائيلو: "زما په نائب دِ د الله پاك رحمت وي، عرض اوکړې شو: حُضُور! ستاسو نائب څوك دے؟ اوئې فرمائيل: زما د سُنَّتو سره محبت کوونکي او نورو ته زده کوونکي. (1)

| | |
|---|---|
| سُنّت کے مطابق میں ہر اِک کام کروں کاش! | تُو پیکرِ سُنَّت مجھے اللہ بنا دے(2) |
| اے کاش! زما هر کار شي د سُنَّتو مطابق | پيکر کړې د سُنَّتو ما، زما خوږه مَولٰى |

## د زيارتِ قُبُور په باره کښې سُنَّتونه او آداب

(1) د مسلمانانو د قبرونو زيارت سُنَّت او د اولياءِ کِرامو او شُهَداءِ عِظام رَحِمَهُمُ اللهُ تَعَالٰى مزاراتو ته حاضريدل د سعادت د پاسه سعادت [يعني ډيره زياته نيك بختي] دے او هغوئي ته اِيصالِ ثواب مندوب (يعني خوښ شوے کار) دے. (فَتَاوٰی رَضَوِيَّه مُخرَّجة، ج۹، ص۵۳۲)

### په اديره کښې [قبرونو ته] د سلام کولو طريقه

(1) داسې اودرېږئ چې قبلے طرف ته مو شا او قبرونو والؤ طرف ته مو مخ وي، د هغې نه پس په تِرمِذي شريف کښې بيان شوے دا



1...جامع بيانِ عِلم، بَابُ:عِلم کے فضائل، جلد:1صفحه:201، حديث:220۔

2...وسائل بخشش، صفحه:118۔

www.dawateislami.net

سلام اووائيږ: اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ يَا اَهْلَ الْقُبُوْرِ يَغْفِرُ اللّٰهُ لَنَا وَلَكُمْ اَنْتُمْ سَلَفُنَا وَنَحْنُ بِالْاَ ثَرِ. **ترجمه**: اے قَبْر والؤ! په تاسو دِ سلام وي، الله تعالىٰ دِ زمونږه او ستاسو بخښنه اوکړي، تاسو زمونږ نه مخکښې راغلي ئيږ او مونږه ستاسو نه پس درتلونڪي يو. (سُنَنُ التِّرمِذِی،ج2ص329حديث1055)

## اربونو مرحومانو نه د دُعائے مغفرت حاصلولو وظيفه

(3) ځوك چې قبرِستان [يعني اِديرې] ته داخل شي او دا دُعا اووائيږ: اَللّٰهُمَّ رَبَّ الْاَجْسَادِ الْبَالِيَةِ وَالْعِظَامِ النَّخِرَةِ الَّتِيْ خَرَجَتْ مِنَ الدُّنْيَا وَ هِيَ بِكَ مُؤْمِنَةٌ اَدْخِلْ عَلَيْهَا رَوْحًا مِّنْ عِنْدِكَ وَسَلَامًا مِّنِّيْ. **ترجمه**: اے الله عَزَّوَجَلَّ! (اے) د دوړيدلو وجودونو او د وراستَو شوو هډوكو ربه! ځوك چې د دُنيا نه د ايمان په حالت كښې تلي دي په هغوئي خپل رحمت اوكړې او زما سلام ور ورسوې.'' نو د **حضرتِ آدم** عَلَيْهِ السَّلَام نه واخله تر دغه وخته پورې چې څومره مسلمانان وفات شوي وي ټول به د هغه (يعني دُعا لوستونڪي) د پاره د بخښنې دُعا كوي. (شَرۡحُ الصُّدُورص226)

(4) كه [ځوك] د قَبْر خوا ته كښيناستل غواړي نو د صاحِبِ قَبْر د مرتبے په لحاظ دِ په ادب كښيني. (رَدُّالْمُحْتَارج3، ص179)

## د قبرونو د زيارت كولو غوره وختونه

(5) د قبرونو د زيارت د پاره دا څلور ورځې بهترې دي: كُل،

زيارت، جُمُعه، خيالي. (عالمگیری ج5، ص350) (6) د جُمُعے په ورځ د سحر د لـمانځه نه پس د قبرونو زيارت کول افضل [يعني غوره] دي. (فَتَاوىٰ رَضَوِيَّه مُخرَّجة، ج9،ص523) (7) د شپې يواځې اديرې ته تلل نه دي پکار (ايضاً) (8) په مُتَبَرَّکو (يعني مبارکو) شپو د قبرونو زيارت غوره دے خاص طور شَبِ براءَت. (فَتَاوىٰ عالمگیری ج5، ص350) هُم دغسې په مُتَبَرَّکو (يعني مبارکو) ورځو کښې هُم د قبرونو زيارت غوره دے مَثَلًا د اخترونو (يعني د غټ اختر او واړه اختر) په ورځ، په لسم **مُحَرَّمُ الْحَرَام** او په عَشَرۂ **ذِی الْحِجَّه** کښې (يعني د ذِی الْحِجَّه په وړومبو لسو ورځو کښې) (ايضاً)

د سُنَّتنو زده کولو د پاره د بهارِ شريعت جلد 3 نه حِصَّه 16 او د شيخِ طريقَت، اَميرِ اهلسنّت، حضرتِ علّامه مَولانا محمد الياس عطّار قادِرى دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَة د 91 صفحو کتاب "550 سُنّتيں اور آداب" واخلئ او اولولئ ئې.

الله پاک دِ مونږ ته د عمل کولو توفيق راکړي.

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم-

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ❀❀❀ صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

# د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنّتو ډکه اجتماع کښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګانې

### ﴿1﴾ د شَبِ جُمعے [يعني د جُمعے د شپے] دُرُود

اَللّٰھُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدِ نِالنَّبِيِّ الْاُمِّيِّ الْحَبِيْبِ الْعَالِى الْقَدْرِ الْعَظِيْمِ الْجَاهِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلِّمْ

بُزرګانو فرمائيلي دي چې څوك هره شَبِ جُمعه (يعني د جُمعے او زيارت مينځنۍ شپه باندې) دا دُرُود شريف پابندۍ سره کم ازکم يو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت کښې د سرکارِ مدينه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دِيدار کوي او قَبْر کښې د داخليدو وخت کښې هُم، تر دې چې سرکارِ مدينه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هغه قَبْر کښې د خپل رَحمت نه په ډکو لاسونو باندې کوزوي.[1] راځئ چې مونږه هم په شريکه دا دُرُود اووائيو.

### ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِهٖ وَسَلِّمْ

حضرتِ سيِّدُنا انَس رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روايت دے چې تاجدارِمدينه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي که ولاړ وو نو د کښيناستلو نه مخکښې او که ناست وو نو د اودريدلو نه مخکښې به د هغه



1 . . . افضل الصلوات على سيد السادات، الصلاة السادسة والخمسون، ص١٥١ ملخصًا

www.dawateislami.net

ګناهونه مُعاف کړے شي. راځئ چې مونږه هم په شریکه دا دُرُود اووائیو.

## ﴿3﴾ د رَحمت اویا دروازے:

صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

خوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اویا دروازے بیرته کړے شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شریکه اووائیو.

## ﴿4﴾ د شپږ لاکه دُرُودشریف ثواب

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِيْ عِلْمِ اللّٰهِ صَلَاةً دَآئِمَةً بِدَوَامِ مُلْكِ اللّٰهِ

حضرت اَحْمَد صَاوِی رَحْمَةُ اللهِ عَلَیه د بَعضو بُزرګانو نه نَقل کوي: د دې دُرُود شریف یو ځل لوستلو باندې د شپږو لاکو دُرُود شریف لوستلو ثواب حاصِلیږي.[2] راځئ چې په شریکه ئې اُووائیو.

## ﴿5﴾ قُربِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ كَمَا تُحِبُّ وَتَرْضٰى لَهٗ

یوه ورځ یو کس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدّیقِ اکبر رَضِیَ اللهُ عَنْهُ تر مینځه کښینولو، په دې باندې صَحابَهٔ



1...القول البدیع، الباب الثانی، ص۲۷۷

2...افضل الصلوات علی سید السادات، الصلاۃ الثانیة والخمسون، ص۱۴۹

کرام رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُم حيران شو چې دا څوك ذِى مَرتبه [يعني اوچتې مرتبې والا] دے! چې کله هغه لاړو نو سرکار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: دے چې کله په ما باندې دُرُودِ پاك لوَلي نو داسے ئې لوَلي.[1] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريکه اووائيو.

### ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَّاَنۡزِلۡہُ الۡمَقۡعَدَ الۡمُقَرَّبَ عِنۡدَکَ یَوۡمَ الۡقِیَامَۃِ

د شفِيعِ اُمَّت صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چې داسې دُرود شريف اولوَلي، د هغه د پاره زما شفاعت واجب شي.[2] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريکه اووائيو.

### ﴿1﴾ د يو زر ورځو نيکئ:

جَزَی اللّٰہُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا ھُوَ اَھۡلُہٗ

د حضرتِ سَيِّدُنا ابنِ عباس رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُمَا نه رِوايت دے چې سرکارِ مدينه صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د دې د لوستونکي د پاره فرښتے يو زر ورځو پورې نيکئ ليکي.[3] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريکه اووائيو.



1...القول البديع، الباب الاول، ص ۱۲۵

2...الترغيب والترهيب، كتاب الذكر و الدعاء، ۲/۳۲۹، حديث: ۳۰

3... مجمع الزوائد، كتاب الادعية، باب فى كيفية الصلاة... الخ، ۱۰/۲۵۴، حديث: ۱۷۳۰۵

www.dawateislami.net

## ﴿2﴾ داسي ده لکه شبِ قدر ئي چې حاصل کړو

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چې دا دُعا درې ځله اولوستله نو لکه هغه چې شَبِ قَدر حاصل کړو.[1] راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شریکه اووائیو.

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ ، سُبْحٰنَ اللّٰهِ رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ❁❁❁ صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد



1 ... تاریخ ابنِ عساکر، ۱۹/۱۵۵، حدیث: ۴۴۱۵

www.dawateislami.net